

# برنامه واکنش

# NOVO NORDISK

## د پروګرام معلومات

د Novo Nordisk د غبرګون پروګرام (www.nnrp.ca) کاناډا ته د نویو راغلو مهاجرینو او کډوالو لپاره دی چې د درملو بیمی ته لاسرسئ نه لري او هغه څوک چې مالي وړتیا نلري چی د Novo Nordisk انسولین او ستنې واخلي.

## د پروګرام معلومات

د Novo Nordisk د غبرګون پروګرام د Novo Nordisk غوره انسولین او ستنې د ناروغ د Novo Nordisk غبرګون ګټو کارت فعالولو نیټې څخه تر 120 ورځو پورې وړاندی کوي.

د دي پروګرام کار د **لنډمهاله** ملاتړ چمتو کول دي پداسې حال کې چې ناروغان د شخصي / اضافي درملو بیمه تضمینوي یا د عمومي درملو پلان لپاره غوښتنه کوي.

که چیرې د Novo Nordisk د غبرګون پروګرام له فعالیدو څخه په 120 ورځو کی دننه د شخصي / اضافي یا عامه درملو بیمه ترلاسه شي، نو د Novo Nordisk غبرګون پروګرام ګټې به بیا پای ته ورسیږي.

## د پروګرام معلومات

د Novo Nordisk غبرګون پروګرام د ګټو کارتونه ناروغانو ته د هغوي روغتیائي متخصص لخوا چمتو کیږئ.

## د انسولین رسولو وسیلو لپاره ملاتړ

- [FlexTouch® Injection Demonstration Video (English)]
- [NovoPen® 4 Injection Demonstration Video (English)]
- [NovoPen® Echo® Injection Demonstration Video (English)]

## نورې پوښتنې لرئ؟

د Novo Nordisk غبرګون پروګرام په اړه د نورو معلوماتو لپاره، د Novo Nordisk پیرودونکي خدمت ته په 1-800-465-4334 زنګ ووهئ.



# برنامه واکنش

## NOVO NORDISK

### دې محصولاتو کې شامل دي

| | |
|---|---|
| ®Tresiba | 2467879- Tresiba® U-100 FlexTouch®<br>2467887 - Tresiba® U-200 FlexTouch® |
| ®NovoRapid | 2244353 - NovoRapid® Penfill®<br>2245397 - NovoRapid® Vial |
| ®Levemir | 2271842 – Levemir ® Penfill® |
| ®NovoMix | 2265435 - NovoMix® 30 Penfill® |
| Novolin® ge 30/70 | 2025248 - Novolin® ge 30/70 Penfill®<br>2024217 - Novolin® ge 30/70 Vial |
| Novolin® ge NPH | 2024268 - Novolin® ge NPH Penfill®<br>2024225 - Novolin® ge NPH Vial |
| Novolin® ge Toronto | 2024284 - Novolin® ge Toronto Penfill®<br>2024233 - Novolin® ge Toronto Vial |
| ستني | NovoFine® 32G Tip etw x 6 mm |

### NovoPen® شتون

**4 ® NovoPen** آلی په درملتون کې ناروغانو ته په وړیا توګه شتون لري.

® آلی بنایي د غوښتنی په صورت کی د روغتیا پاملرنې مسلکي دفتر یا د شکر ناروغۍ په ځایي روزنیز مرکز کې شتون ولري. سربیره پردې، درمل جوړونکي کولی شي په لاندې پته د Novo Nordisk پیرودونکي خدمت سره په لاندې شمیری په اړیکه کې شئ او نووپین®Echo® آلي په محدود مقدار کې روغواړي:.1-800-465-4334

پدې برنامه کې شامل محصولات د Novo Nordisk کاناډا شرکت په اختیار کې دي.
او کیدای شي د خبرتیا پرته بدل شي.

CA22DI00056 – 12/07/22



# برنامه واکنش

# NOVO NORDISK

## مکرري پوښتنې

← **آیا د کټی کارت د Novo Nordisk یو څخه زیاتو درملو لپاره کارول کېدی شي؟**
هو! د Novo Nordisk غبرګون پروګرام د کټي کارت د پوښل شوي درملني یا د Novo Nordisk پوښ شوي انسولین هر ترکیب لپاره بیرته اخیستل کیدی شي.

← **آیا د Novo Nordisk غبرګون پروګرام د کټي کارت له یو ځل څخه زیات کارول کیدی شي؟**
هو! د Novo Nordisk غبرګون پروګرام کټي کارت تر 120 ورځو پورې د انسولین ریچارج کولو لپاره کارول کیدی شي. همدارنګه، Novo Nordisk غبرګون پروګرام د کټي کارت بیا پیرودلو وخت کی 1 بکس ستنی وړاندي کوي (تر 4 بکسونو پورې).

← **آیا د Novo Nordisk غبرګون پروګرام د کټي کارت پای (ایکس پایر) ته رسیږي؟**
د Novo Nordisk غبرګون پروګرام د دې لپاره برابر شوی او چې کاناډا ته د نوی رغلو خلکو لپاره لنډمهاله مرسته وړاندي کړي. د پروګرام د کټي کارت تر 120 ورځو پورې د Novo Nordisk انسولینونو او ستنو غوره کولو لپاره لاسرسی تضمینوي. د دې 120 ورځو په دوام کې، د پروګرام ترلاسه کونکي هڅول کیږي چې د شخصي / اضافي درملو بیمه واخلي یا د مختلفو ولایتي او سیمه ایزو حکومتي درملو پروګرامونو لپاره غوښتنه وکړي.

که چیرې د Novo Nordisk غبرګون پروګرام د فعالولو په 120 ورځ خصوصي / اضافي یا عامه درملو بیمه ترلاسه شي، نو د Novo Nordisk غبرګون پروګرام کټي بیا پای ته رسیږی.

← **آیا د Novo Nordisk شامل شوېو انسولینو لپاره کومه بیه یا فیس شته؟**
نه. د Novo Nordisk غبرګون پروګرام د Novo Nordisk لخوا تولید شوي درملو او ستنو لګښت، او همدارنګه د صنعت معیاري لګښتونه او د توزیع کولو لګښتونه پوښي.

← **آیا ستنی د Novo Nordisk غبرګون پروګرام کی شتون لري؟**
غوره شوی ستني په دې پروګرام کی شاملې شوی دي. Novo Nordisk غبرګون پروګرام د کټي کارت بیا پیرودلو وخت کی 1 بکس ستنی وړاندي کوي (تر 4 بکسونو پورې).

← **زه له کوم ځای څخه د مختلفو ولایتي او سیمه ایزو حکومتي درملو پروګرامونو په اړه نور معلومات تر لاسه کولی شم؟**
د نورو معلوماتو لپاره د ولایتي او سیمه ایرو حکومتي درملو پروګرامنون صفحې ته ورشئ چې د کاناډا حکومت په ویبسایټ کی شتون لري.